د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتي خبر

د المان او هالند حکومتونه په کندز کې د عدلي او قضايي سکتور پروګرام ته تر ۲۰۱۷ کاله پورې دوام ورکوي

کابل، د ۱۳۹۳ کال د سلواغي د مياشتې ۲۷ مه نېټه – نن د المان او هالند حکومتونو يې ټون لاسلیک کوچې د هغې پربنا به هغوی د کندز په ولايت کې د قانون د حاکمیت په برخه کې خپل ګډ پروګرام ته تر ۲۰۱۷ کاله پورې دوام ورکړي. د المان د اقتصادي همکارۍ او پراختیا وزارت(BMZ) پارلماني مرستیال ښاغلي توماس زيلبرهورن د هغه وزارت په استازيتوب او په افغانستان کې د هالند سفیر ښاغلي هانک ين بککر د هالند د بهرنیو سوداګرۍ او نړیوالو همکارۍ د وزارت (DGIS) په استازيتوب په کابل کې په ډېره ناسته کې د خپلو دخو د ګډون دوام اعلان کړ.

په دغه اعلامیه کې، د هالند حکومت د ۲۰۱۷ کال تر پایې پورې د کندز ولایت په عدلي او قضايي سکتور کې د المان د حکومت سره د ګډو فعالیتونو د تمویل په موخه د نورو ۵،۴ ملیونو یورو (۲۹۴ ملیونو افغانیو) ژمنه وکړه. المان او هالند د ۲۰۱۱ کال راهیسې په نوموړي ولایت کې د قانون د حاکمیت د ټینګولو په برخه کې یو له بل سره ګډه همکاری لري. د هالند حکومت همدارازد دغې همکارۍ د یوې برخې په توګه ۵،۱ ملیونه یورو (۹۸ ملیون افغانۍ) په ۲۰۱۴ کال کې د بښځو دپاره د عدالت د سمون په لاره کې د افغانستان د شمال په نورو ولایتونو کې برابر کړي.

د المان او هالند د حکومتونو ترمنځ د نوې همکارۍ پیاوړې کولو برخه د پخوانیو برنامو پر بنسټ او په ستراتژیکو مسئلو کې د افغانۍ نهادونو د توان ورکولو په پام کې نیولو سره پرمخ ولاړشي. د کندز د پروژو په ترڅ کې یې هم د افغانستان د مدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې (AIBA)سره د مالي ستراتژیکي پلانجوړونې له لارې د هغې د غړو بسیاتوب په موخه مرسته شامله ده. دغه پروګرام به همدارازپه حقوقي کلینیک او د کندز پوهنتون د حقوقو په پوهنځي کې پانګې اچونې ته دوام ورکړي چې د زده کوونکو سره مرسته کېږي چې په حقوقي سکتور کې عملي تجربې په لاس راوړي. په پام کې ده چې نوموړی حقوقي کلینیک په اوږدمهال کې د هغه پوهنتون په درسي پروګرام کې شامل شي.

سربېره پردې، د عدلیې وزارت دسویلې انډو مرټګوټو ټولنې د حقوقو مدیریتونو ته به د مدني شخړو او قضیو په باب نوره روزنه ورکړل شي. هغوی کولای شي په خپلو دفترونو کې چې د ولایت په ټولو ولسوالیو کې جوړشوي هم د خلکو په مرګ کې خپل حضور او هم د محاکماتو سیستم څخه خپله خپلواکي زیاته کړي او په دې توګه د خلکو دعواوې پر حقوقي بنسټ پرته له دې چې مدافع وکیلانو ته مراجعه وشي، حل کړي. د همکارۍ په نوي پیاوړ کې به همدارازد ډیې هراړخیزې ستراتژۍ پر بنسټ د دندې د ترسره کولو په بهیر کې د نوموړو مرټګوټو د لاربنوونې او روزنې کار دوام ومومي.

پخوا د دې پروګرام په چوکاټ کې د نوموړې ټولنې سره په وروستیو وختو کې د کندز په ښار کې د ډیې نوې ودانۍ په تمویل کې مرسته وشوه. همدارنګه، د پروګرام د فعالیتونو په ترڅ کې، د مدافع وکیلانو شمیر د ۲۰۱۱ کال راهیسې د ۱۱ تنو څخه ۸۰ تنو ته اوچت شوی او اوس د ۱۰ تنو نه زیاتې ښځې د مدافعو وکیلانو په توګه په محکمه کې ثبت شوې دي. د ۱۰۰ نه زیاتو قضیو کې د موکلینو څخه په وړیا توګه دفاع او وکالت شوی دی. په حقوقي کلینیک کې څو نا څو ۱۵۰ تنه د حقوقو د څارنې زده کوونکي په عملي کورسونو کې د حقوقي مسئلو په باب د نورې زده کړې د امکاناتو څخه ګټه پورته کړې ده. د کورسونو چارو د وزارت د محلي پولیسو د ډیرکټوریت سره د روزنې برابرول، او د افغانستان د صداقت او پاکۍ د نظارت د سازمان سره د محلي محاکماتو په څارنه کې همکاري هغه نور فعالیتونه دي چې د نوموړي پروګرام په ترڅ کې ترسره شوي دي.

د ۲۰۰۲ کال راهیسې، د المان حکومت د افغانستان د عدلیې وزارت د څو څخه عدالت ته د ټولو خلکو د لاسرسي په لاره کې ملاتړ کوي. په ۲۰۰۷ کال کې د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH اداره د آلمان د اقتصادی همکارۍ او پراختیا وزارت(BMZ) په استازيتوب په ډېرو کې عدالت ته د خلکو د ښه لاسرسي او همدارازد عدلي او قضايي سکتور د کارکوونکو د مسلکي ظرفیت د سمون له لارې د قانون د حاکمیت د ټینګولو په موخه په کار پیل وکړو او په ځینو حالتونو کې یې د خلکو د حقوقي خبرتیا د کچې په لوړولو کې ګام اوچت کړ. په ۲۰۰۸ کال کې نوموړي پروژې خپل کارونه په کندز کې پیل کړل. او په ۲۰۱۱ کال کې د هالند حکومت د المان د حکومت سره یوځای په کندز کې د پروژو په ګډ تمویلولو پیل وکړ.

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de